نړیوال بانك
له بي وسۍ فقر او غربت څخه ژغورلي
نړۍ ته د رسیدلو لپاره هلې ځلې

**خبری خپرونه**

اړيكي:
نړیوال بانك په كابل كې: عبدالرووف ضیا ۷۰۰۲۸۰۸۰۰ (۹۳)
Azia@worldbank.org

---

# نړېوال بانک په جنوبي آسيا کې د خوار ځواکۍ پر وړاندې دمبارزې په برخه کې دنوو کړنو دملاتړ په موخه د رقابتي خپرونو له لارې اته سوه څلویښت زره امریکایي ډالره ګټونکي سیالي کونکو ته ورکړل

**داکه، د۲۰۰۹ زیږدیز کال ـ داګست دمیاشتي ۵** ـ د جنوبي آسیا په حوزه کې دمدني ټولنو یویښت موسسې د انکشافي خپرونو له لارې د۸۴۰۰۰۰ امریکایي ډالرو ګټونکي شول،په دغه لړکې هره یوه موسسه د ۴۰۰۰۰ امریکایي ډالر ګټونکي پېژندل شوی دي، چې له دغه مرستو نه په ګټې اخیستنې سره به دوي دخوار ځواکۍ دوضعیت په ښه کېدو کې خپلې اغیزمنې ابتکاري طرې عملي کوي، چې په دې لړ کې له افغانستان څخه له افغان کورنیو څخه د څارنې یا(CAF) مو سسې ګټونکې پېژندل شوې ده.

*"خوارځواکي په جنوبي آسیا کې دیوې لوې ستونزې په تو ګه شتون لري،"* دغه ټکي **دجنوبي آسیا په حوزه کې دنړېوال بانک مرستیالې میرمن ایزبل ګویریرو** څرګنده کړې ده، نوموړې د دغه سیالیو په جوړه شوې غونډه کې د دې مطلب په څرګندولو سره وویل. *"دماشومانونا سمه تغذیه د دې لامل ګرځي چې ماشوم دیوه سالم، او ګټور ژوند څخه بې برخې کړي، نو د دتغذیې دګټور تیا په برخه کې پانګونه یو ټولنیزه پالیسي ده، او په دې کې شک نشته چې یوډالر که په دې برخه کې لګول کیږي، ګټورې اغیزې ترشاپریږدي ،او ددې لامل ګرځي چې دیو ماشوم راتلونکی وژغورل شي."*

په دې برخه کې له افغاني کورنیو څخه دڅارنې موسسه یا (CAF) د صمیمې ټولنې ترنامه لاندې په خپله ګټوره طرحه کې چې وړو ماشومانو د تمرکز له لارې ښه تغذیې لپآره ، نه یوازې دا چې میندو ته په دې برخه کې پاملرنه کیږي دکورنۍ د نور غړو سربیره د کلیوالو ته یې تر پام لاندې دي، چې دنورو سیالو موسسو په ډله کې دغه طرحه ومنل شوه.

*"په دغه سیالي کې بریا د دې ښکارندوی دي چې ټولې نظربې، او ابتکارونه د تغذیې د ستنو نزو دحل لپاره دیو ګټور اقدام عملي کول دي. دغه سمیه ایزه خپرونه ، له آزادې او غیر حکومتي موسسو سره مرسته کوي چې خپل نظربې سره بیان کړي، او خپلې تجربې له یوبل سره شریک او ګټورې زدکړې ترلا سه کړې،"* دغه ټکی **له افغان کورنیو څخه دڅارنې د موسسې مشر ښاغلی بشیر احمد حمید** څرګنده کړې ده.

ګټونکي موسسې ،له دغه مالي مرستو څخه په ګټې اخیستنې سره، تر ۱۸ میاشتو پورې وخت لري چې دخپلو ابتکاري پورژو له لارې خپلې طرحې عملي او ورکړل شوې مرسته ولګوي.

په دغه سیالي کې دهند هېواد د۹ پروژو په غوښتلو سره د ۲۱ نورو غوښتنو ترڅنګ ترټولو لوی ګټو نکی وپېژندل شو او د یاد سیالۍ لویه برخه یې ځانته اختصاص کړې، په همدې حال کې دبنګله دیش ،او نیپال هېوادونه دوهم لاس ګټونکي وپېژندل شول،چې له دې سره تړلی دپاکستان هېواد دوه ګټونکي،افغا نستان او سریلانکا یو یو ګټو نکي درلودل.

دغه آزاده رقابتي خپرونه د وړو او شو دي خوړنوکو ماشومانو دتغذيي دښه والي لپاره دټولني ،او کورنيو لپاره نوې کتن لاري تر نامه لاندې د هغو خوار ماشومانو لپاره چي عمرونه يې تر دوو کلونو کم وي ، د وضعيت دښه کېدو، په اړه دغه راز دامیدوار مینډوته په لاره اچول شوې وه. چي په دغه رقابتي خپرونه کې دزرو په شاو خوا کې غوښتن ليکونه د افغانستان، بنګله ديش، مالديو، هندوستان، نیپال، پاکستان او سريلانکا دهېوا دونو له لوري وړاندې شوي وو. چي دارزونې له کره او دقيقې څېړني وروسته شپېته هغه موسسې چي غوښتني يې په اړونده برخه کې لرلې خپل نظرونه يې نن د ډاکې په ښار کې کتني ته وړاندې کړې چي دورستي ګټو نکي په توګه وپېژندل شول، دغه ارزونه دنړيوالو انکشافي متخصصيون له خوا تر سره شوه.

*"په غونډه کې ټول ګډونکونکي ګټونکي دي."* دغه ټکی میرمن ګویریرو په خپله پرانيستونکي وينا کې وکړه، نوموړې ټينګار وکړ چي د د غي لوبې رقابتي خپروني پايلي او، لاسته راوړنه داده چي ټول ګډون کونکي دخپلو فکرونو تجربو په شريک کولو سره نور ګټور موضوعات يې زدکړل، دبنګله ديش هېواد دعامې روغتيا،او هوسا کورنۍ وزيرښاغلی ډاکتر روح الحق په جوړه شوې رقابتي غونډه کې را غلو ميلمنو ته ښه راغلاست وويل او ديادې ابتکاري غونډې له جوړېدو څخه يې قددر داني وکړه، دغه راز دغونډې په وروستيو شيبو کې دبنګله ديش دماليې وزير عبدالمال موهيت، دغونډې پر ګډون کونکو باندې دهغوی برى ليکونه و ويشل.

دغه راز د رايې اخيستني په پايله کې د دغه سيالی ګډون کونکي د بنګله ديش نه ،دهغو ماشومانو دو ضعيت دښه والي په اړه چي دهغوی مینډې په ځان خرڅونه بوختي دي ،او ماشو مان يې له خوار ځواکۍ سره مخ دی ،او دهغوی کورني د اچ آی وی /ايدز (HIV/AIDS ) په مرض اخته وو، یوه غوښتن پانه جوړه شوې وه چي ، دخلکو دانتخاب په عنوان دجايزې ګټونکی شوو.

د جنوبي آسيا په حوزه کې دغه آزاد سيالي ديونسف اداري به مالي مرسته، دخوراک دنړيوال سازمان، پيپسي شرکت، دمغذي موادو ترکيبي شرکت، دالمان انکشافي اداره،(جي تي زيد) او دنړي دروغتيايي موادو دټولني له خوا په لاره اچول شوې ده،

د جنوبي آسيا دانکشافي بازار په اړه دنورو معلوماتو لپاره لاندې انترنتي پتې ته مراجعه وکړئ.
www.worldbank.org/nutritiondm2009

دجنوبي آسيا په حوزه کې دلا زياتو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره لاندې پتې ته مراجعه وکړئ
http://www.worldbank.org/sar

دنړيوال بانک دفعاليتونو په هلکه دلازياتو معلو ماتو لپاره دغه پته کې کاکړئ
http://www.worldbank.org.af